**<u>مطبوعاتي اعلاميه</u>**

## اصلي مکلفیت یوازې د تېرېو درول نه، بلکې د ټول اشغال پر ختمولو تمرکز دی!

**(ژباړه)**

د اسلامي هېوادونو وزیران، د اندونیزیا له ختیځ څخه د مراکش تر لویدیځ پورې په دې هڅه کې دي چې په لویدیځه غاړه یا په غزې تړانګه کې د صهیونستي رژیم له لوري د بشري حقونو د سرغړونو او تجاوزونو پر وړاندې فشارونه زیات کړي. لومړي وزیران او د بهرنیو چارو وزیران په دورهيي ډول سره راټولېږي او د حکومتونو او وزیرانو ترمنځ اړیکې ټینګېږي. ځینې وخت د دغو چارواکو له لوري د غندنې غوښتنه کېږي او یا یې پخپله غندنه کوي او ځینې خو ان د ترکي چارواکو په څېر د سوداګریزو اړیکو د پرېکون ګواښ هم کوي. همدارنګه، ځینې یې خلکو ته د لاریونونو اجازه ورکوي، ترڅو د تېرېو او تجاوزونو د درولو غوښتنه وکړي، خو د اشغال پای ته رسولو غوښتنې له پامه غورځوي؛ ځکه دوی پوهېږي چې دغه غوښتنې د کمزورو او بې ارادې سیاسي جوړښتونو په چوکاټ کې نه عملي کېږي.

د سعودي د بهرنیو چارو وزیر فیصل بن فرحان له خپلو ترکي، مصري، اردني، بحریني او ګامبیایي سیالانو سره په اړیکه کې دی، ترڅو د فلسطین د وضعیت، په غزه کې د اوربند او د فلسطین د خلکو د حقونو د ملاتړ په اړه خبرې وکړي. دغه هڅې د اسلامي هېوادونو د هغو هڅو یوه برخه ده چې د فلسطین د دولت او اوسېدونکو مشروع حقونه بیرته ترلاسه کړي او عربي او اسلامي همکارۍ پیاوړې کړي، ترڅو د صهیونستي رژیم ټولې جدي سرغړونې ژر تر ژره ودرول شي. د سعودي ولیعهد محمد بن سلمان هم د ترکیې او مصر له ولسمشرانو سره ټلیفوني اړیکې نیولې او له هغو سره یې په غزه او لویدیځه غاړه کې د بریدونو او سرغړونو د زیاتېدونکو هڅو د بندولو په اړه خبرې کړې دي.

تر دې وړاندې، د اسلامي همکاریو سازمان د ۲۰۲۳م کال، د اکتوبر په۱۸مه نېټه د یو استثنایي کنفرانس پریکړې ولیدل شوې چې د فیصل بن فرحان په مشرۍ ترسره شوی و. دغه پریکړې پر دې ټینګار کوي چې د فلسطین مسله باید مرکزي پاتې شي، د فلسطین د خلکو د حقونو ملاتړ وشي او د «نړیوال قانون» پر بنسټ د فلسطین د دولت جوړېدلو غوښتنه کوي. له ملګرو ملتونو او د امنیت شورا څخه هم غوښتنه شوې وه چې د جنګي جنایتونو او سرغړونو د درولو په اړه خپله مکلفیت ادا کړي.

د ۲۰۲۴م کال، د مې په۱۶مه په بحرین کې د عربي هېوادونو د رهبرۍ غونډه هم د دغو پخوانیو پریکړو سره پای ته ورسېده چې مهم ټکي یې په لاندې ډول دي:

۱. د غزې پر وړاندې د (اسراییلي) بریدونو ژر تر ژره درول او له غزې څخه د اشغالګرو ځواکونو وتل.

۲. د ملګرو ملتونو تر نظارت لاندې د نړیوالو ساتونکو ځواکونو ځای پر ځای کول.

۳. د فلسطینیانو د اجباري بې‌ځایه کولو هر ډول هڅه ردول.

۴. پر رفح ښار د اسراییلي بریدونو او د رفح د مهاړولو غندنه.

۵. پر اردني مرستندویه کاروانونو د بریدونو غندنه او د نړیوالې څېړنې غوښتنه.

٦. له ټولو اړخونو غوښتنه چې له جګړې او تاوتریخوالي ډډه وکړي او په سیمه کړکېچ ډېر نه کړي.

۷. د ۲۰۲۴م کال، د اپریل ۱۸مې په ناسته کې د فلسطین دولت د بشپړې رسمیت پیژندنې په اړه د امنیت شورا د پریکړې د بیاکتنې غوښتنه.

دغه پریکړې او هڅې ښیي چې د دغو هېوادونو موخه، که انفرادي وي که په ګډه، یوازې یو سیاسي حل لټول دي، چې امریکا یې د فلسطین د مسلې وروستی حل ګڼي او هغه د دوو دولتونو حل دی. سربېره پر دې، د دوی غوښتنې چې په لویدیځه غاړه کې نړیوال ځواکونه ځای پر ځای شي، د اشغال پای ته رسولو یا د فلسطین د ازادۍ لپاره هېڅ هدف نه لري!

پر ځای یې، دغه هېوادونه، په داسې حال کې چې دغو اقداماتو ته بلنه ورکوي او بریدونه غندي، له اسراییلو سره خپلې ډیپلوماټیکې او سوداګریزې اړیکې ساتي او ان پولې یې ورته پرانیستې دي، ترڅو په جګړه او سرغړونو کې یې بې‌سارې ملاتړ ورکړي او په مستقیم ډول په جنګي جنایتونو کې برخه ولري، چې د امریکا او غربي هېوادونو له لوري د وسلو او ځواکونو په وسیله ترې ملاتړ کېږي. دغه مسایل د ژورنالیستیکي څېړنو په پایله کې په ډاګه شوي دي، لکه د متحده عربي اماراتو څخه د عربي ټاپوزمې او اردن له لارې اسراییلو ته د کلک محافظت او د باروړونوکو موټرو امنیت ټینګول.

دې ته ورته حالت له ترکیې سره هم شته، چې صادرات یې له هغه وخت څخه ډېر شوي چې د باب المندب تنګی تړل شوی او له دې کبله د تېلو او سوداګریزو توکو انتقال محدود شوی دی. د بریتانیا د «Middle East Eye» وېب‌پاڼې په راپور کې ویل شوي دي چې د یوې ډلې ترکي شرکتونو چې د فلسطین د ګمرکاتو له لارې اسراییل ته صادرات کوي، صادرات د ۲۰۲۴م کال په لومړیو اتو میاشتو کې ۴۲۳ سلنه زیات شوي، یعنې له ۷۷ میلیونه ډالرو څخه ۴۰۳ میلیونه ډالرو ته رسېدلي. دغه راپور اشاره کوي چې په ځانګړي ډول په اګست میاشت کې

صادرات د پام وړ وو؛ ځکه په دغې میاشت کې د ترکیې صادرات ۱۵۶،۱ سلنه زیات شوي او له ۱۰ میلیونه ډالرو څخه ۱۲۷ میلیونه ډالرو ته لوړ شوي.

د دغو حکامو د خیانت بېلګې ډېرې دي او په ډاګه ښیي چې اسلامي امت له دغو خیانتونو څخه بیزاره دی او پوهېږي چې د غندنې او استنکار په اړه د هغوی اعلامیې او بیانونه یوازې یو چل دی او هغه څه چې دوی ورته د هڅو زیاتوالی وایي، یو له دروغو ډک تبلیغ دی. د دوی غونډې په هره کچه ناکامې دي او امت پوهېږي چې د دوی واکمني یوازې د وخت مسله ده؛ ځکه له دوی سره خلک نشته. که څه هم ځینې سیاسي او پوځي ځواکونه ښایي په راتلونکي کې د پام وړ بدلونونو لپاره رول ولوبوي او په فلسطین او نورو سیمو کې له مستضعفینو سره مرسته وکړي، دغه بدلون یوازې د دغو کمزورو او مزدورو رژیمونو په ړنګولو سره شونی دی، چې د امریکا یا بریتانیا په فرمان عمل کوي او د خلکو د پاڅون او انقلاب له ویرې سره مخ دي.

حزب‌التحریر به د امت د ویښتابه او پر سم لوري د امت روانولو لپاره خپلو هڅو ته دوام ورکړي او له اهل قدرت څخه غواړي چې له اسلامي امت سره مرسته وکړي، ترڅو خپل واک بیرته ترلاسه کړي او داسې یو عادل خلیفه غوره کړي چې د الله سبحانه وتعالی کتاب او د هغه د پیغمبر صلی الله علیه وسلم سنت تطبیق کړي، ترڅو دغه مزدور رژیمونه او له دسیسو ډک نړیوال نظام ړنګ او د مظلومانو پر وړاندې ظلم او تجاوز پای ته ورسوي.

**[وَمَا لَكُمْ لَا تُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللهِ وَالْمُسْتَضْعَفِينَ مِنَ الرِّجَالِ وَالنِّسَاءِ وَالْوِلْدَانِ الَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَا أَخْرِجْنَا مِنْ هَذِهِ الْقَرْيَةِ الظَّالِمِ أَهْلُهَا وَاجْعَل لَّنَا مِن لَّدُنكَ وَلِيّاً وَاجْعَل لَّنَا مِن لَّدُنكَ نَصِيراً]**

**ژباړه:** *«په تاسو څه شوي دي، چې د الله تعالی په لاره کې د هغو بېوسو نارینه، ښځو او ماشومانو لپاره نه جنګېږئ چې کمزوري کړل شوي دي، تر فشار لاندې نیول شوي دي او فریادونه کوي چې: اې زموږ ربه، موږ له دې وطنه چې اوسېدونکي یې ظالمان دي وباسه؛ او له خپل لوري څخه زموږ لپاره سرپرست او مرستندوی پیدا کړه.»* [نسأ: ۷۵]

**د حزب التحریر- مرکزي مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۴۶ هـ.ق کال، د ربیع الاول ۶مه**

**۲۰۲۴م کال، د سپټمبر ۹مه**

**د صدور ګڼه: ۱۴۴۶/۰۱۹**

**ژباړن: اسرار تکل**